په اروپا کی د مېښته افغانانو د ټولنو فدراسیون
فدراسیون سازمانهای پناهندگان افغان در اروپا
**Federation of Afghan Refugee Organizations in Europe**

اعلامیه

لیدن، 6 مارچ 2009

## د رحمان بابا په زیارت کی چاودنه، د ISI لخوا د افغانستان د خلکو سره د کلتوری جگړه یوه برخه ده !



د آزادی راډیو خبر ورکړ، چي د پښتو ژبي د اولسمی پیړی نامتو تصوفی شاعر عبدالرحمان بابا (رح) په زیارت کي ځلور چاودني شوې دي ، چي د زیارت تعمیر ته یې سخت زیان رسولی دئ.. د فارو مشرتابه هیأت د افغانستان او ټولو پښتنو د معلوم الحاله د ښمنانو دغه ناوړه عمل په کلکه غندی. رحمان بابا د پښتو ژبی هغه پیاوړی شاعر ده چه هر افغان ماشوم د ښوونځی په لمړیو کلونو کی دده د اشعار و سره آشنا کیږی او د ژوند تر آخره پوری یی د بابا اشعار چه د مینه او سولی لوړ تبارز دي ، پخپل حافظه کی یی ساتی. د بابا مزار چه د پیښور په هزارخوانی سیمه کې جوړ شوی وه ، په عنعنوی ډول دده د مرگ نه راپدی خوا د هرې جمعې د ماسپښین او مازیگر ترمنځ زیارت ته خپرمه د ملنگانو په د ېره کې د رباب منگي محفل ښه پکښې روان وي او شوقي سندرغاړي چې ځانونه ملنگان بولي د بابا غزلې په ترنم کې وايي. د رحمن بابا اشعار په او سنی افغانستان کی هم د ځینی خانقایی او قوالی سندرغاړو لخوا ویل کیږی. د رحمن بابا مقام د پښتو ژبی په ادبیاتو کی ډیر لوړ بلل کیږی له همدی کبله د رحمان بابا په زیارت حمله ، لر او بر افغانانو ته لویه سپکاوی ده.

د رحمان بابا د زیارت چاودنه په افغانی کلتوری میراث باندی لمړنی یرغل نده. د افغانستان پرضد کلتوری جنایتونه چه زمونږ گاوندی هیوادونه ، په تیره بیا پاکستان او ایران پکی برخه لری، په 2001 کال کی د بامیان د لوی مجسمي د له مینځه وړلو سره خپل اوج ته ورسیده. اوس اوس ، طالبان د ISI په اشاره د افغانستان په

سويلي او سويلختيځ کی زمونږ ښوونځي باندی اور لګوی ، زمونږ ښوونکی وژنی. له بلی خوا ځخه ايران د هرات او نور لويد يزولايتونو د با ارزښته تاريخی آثارو په چپاول او تخريب بوخته ده. د ايران سره ملګری مافيا منقول تاريخی آثار د اسلامی جمهوريت د استخباراتو په اشاره ايران ته وړی او غيرمنقول شيان ماتوی.

پاکستان او ايران له يوی خوا ځخه مونږ د کلتوری بنه خلع سلاح کوی او د بلی خوا ځخه خپل کلتوری يرغل ته پراختيا ورکوی. دوا ړه ګاونديان د افغان د حکومت د کمزوری نه ګټه پورته کوي. د افغانانو د لوی شاعر رحمان بابا په زيارت باندی د پښتنو د ښمنانو يرغل، د دغه جګړه يوه برخه ده.

"دفارو دکلتوری چارو کميته "